لوړو زده کړو وزارت

لوګر پوهنتون

علمي او محصلانو چارو معاونیت

ښوونې او روزنې پوهنځی

اسلامي علومو او فرهنګ څانګه




# د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې کتلاک

ترتیب کوونکي: پوهنیار احمد غیور یوسفزی. پوهنمل ابراهیم نوري

۱۴۰۴


بسم الله الرحمن الرحيم

## لوګر پوهنتون

## علمي او محصلانو چارو معاونیت

## ښوونې او روزنې پوهنځی

## اسلامي علومو او فرهنګ څانګه

# د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې کتلاک

**د امتیاز خاوند: اسلامي علومو او فرهنګ څانګه**

**د چاپ کال: ۱۴۰۴ هـ. ل**

**څانګې آدرس: ښوونې او رزنې پوهنځي، لوګر پوهنتون د مامورینو کارته، پل علم ښار، لوګر ولایت**

**دغه کتلاک د څانګې علمي شورا د غونډې په (۶) ګڼې پروتوکول او ۱۴۰۴/۵/۹ نېټه کې اصلاح شوي بڼه ثبت او تائید دی.**

**دغه کتلاک د فرهنګي کمېټې د غونډې په (۵) ګڼې پروتوکول او ۱۴۰۴/۷/۸ نېټه کې اصلاح شوي بڼه ثبت او تائید دی. دغه کتلاک د څانګې علمي شورا د غونډې په (۸) ګڼې پروتوکول او ۱۴۰۴/۷/۲۱ نېټه کې اصلاح شوي بڼه ثبت او تائید دی.**

## د مطالبو لړلیک

عنوان مخ

سریزه.......................................................................................................1

### لومړی څپرکی

۱.۱. لومړی مبحث: د اسلامی علومو او فرهنگ ځانگې مخینه........................................................2
۱.1.1. لرلید (Vision).............................................................................................3
۱.1.۲. رسالت (Mission).........................................................................................3
۱.1.۳. ستراتیژیکې موخې (Strategic Goals)........................................................................3
۱.1.۴. ارزښتونه (Objectives)....................................................................................3
۱.1.۵. تجهیزاتو برخه.............................................................................................3
۱.۲. دوهم مبحث: د اسلامی علومو او فرهنگ دیپارتمنت موقعیت او امکاناتو په هکله ......................................4
۱.۲.1. د اسلامی علومو او فرهنگ دیپارتمنت ودانی....................................................................4
۱.۲.۲. د اسلامی علومو او فرهنگ ځانگې د علمي کادر غړو احصائیه........................................................4
۱.۲.۳. د اسلامی علومو او فرهنگ ځانگې جوړښت او تشکیلات...............................................................5
۱.۳. دریم مبحث: د محصلینو احصائیه او د علمي کادري غړو سره نسبت...................................................6
۱.۳.1. د ۱۳۹۳ تر ۱۴۰۳ کال پورې د جنسیت پر بنسټ د محصلانو احصائیه ................................................6
۱.۳.۲. د ۱۳۹۳ کال نه تر ۱۳۹۴ پورې د استاد- محصل نسبت...............................................................6
۱.۳.۳. د ۱۳۹۵ کال نه تر ۱۴۰۳ پورې د استاد- محصل نسبت...............................................................7
۱.۳.۵. د اسلامی علومو او فرهنگ ځانگې کتاب خونه......................................................................7

### دوهم څپرکی

### د اسلامی علومو او فرهنگ ځانگې کمېټې

۲.۱. ستراتیژیک پلان کمېټې تشکیلاتي جوړښت.............................................................................8
۲.۱.۱. د ستراتیژیک پلان کمېټې د دندو لایحه...........................................................................8
۲.۲. د کیفیت لوړاوې او اعتبارو ورکونې کمېټې تشکیلاتي جدول.............................................................9
۲.۲.۱. د اعتبار ورکونې او کیفیت لوړاوې کمېټې د دندو لایحه.............................................................9
۲.۳. د کریکولم کمېټې تشکیلاتي جدول ...............................................................................10

۲. ۳. ۱. ۱. د کریکولم کمېټې د دندو لایحه 10

دریم څپرکی

د اسلامی علومو او فرهنګ څانګې درسي نصاب

پوهنتون شمول مضامین 11
۳. ۱. لومړی سمستر 12
۳. ۲. دویم سمستر Error! Bookmark not defined.
۳. ۳. دریم سمستر 12
۳. ۴. څلورم سمستر 12
۳. ۵. پنځم سمستر 13
۳. ۶. شپږم سمستر 13
۳. ۷. اووم سمستر 13
۳. ۸. اتم سمستر 13

څلورم څپرکی

د اسلامی علومو او فرهنګ څانګې د علمي کادري غړو پېژندنه

۴. ۱. پوهندوی میرویس ستانکزی 14
۴. ۲. احمد غیور یوسفزی 14
۴. ۳. پوهمل ابراهیم نوری 15
۴. ۴. پوهنیار محمد نذیر محمدی 15
۴. ۵. پوهنیار فضل الربی فایض 16
۴. ۶. پوهنیار دکتور یحي حقمل 16
۴. ۷. پوهنیار فضل الربی زاهد 17
۴. ۸. ن/ پوهنیار شفیع الرحمن هاشمی 17
۴. ۹. ن/پوهنیار سید عظیم الله هاشمی 18

## سریزه

په دې کتلاک کې د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې مخینه، تشکیل، علمي کادرونه، د محصلینو احصائیه، د استاد او محصل ترمنځ تناسب، د څانګې لرلید، رسالت، ارزښتونه، ستراتیژیکي موخې، بېلابېلې کمېټې، د هرې کمېټې تشکیلاتي جدولونه، او د علمي غړو بیوګرافي په شمول ټول اړین معلومات ځای پر ځای شوي دي.

زموږ موخه دا ده چې د دې کتلاک له لارې د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې د علمي، اداري، او مسلکي چارو یو روښانه تصویر وړاندې کړو، ترڅو د دې څانګې د اهمیت، ارزښت، او فعالیتونو په اړه هر څوک کره معلومات ترلاسه کړي.

الله تعالی دې موږ ټولو ته توفیق راکړي چې د علمي لاسته راوړنو له لارې د ټولنې د پرمختګ، ښېرازۍ، او سوکالۍ لپاره مؤثر ګامونه واخلو. آمین.

# لومړی څپرکی

## ۱.۱. لومړی مبحث: د اسلامي علومو او فرهنګ ځانګې مخینه

اسلامي ثقافت څانګه په ۵/۸/۱۳۹۸ هـ ش کال د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې تاسیس شوه، چې بیاوروسته په کال ۱۴۰۲ هـ ل کې په فارغ ده څانګه بدله شوه، دا څانګه د عصري پوهنځیو لپاره د اسلامي زده کړو پوهنتون شمول درسي مواد اماده او ترتیبوي چې د هیواد د ځوانانو دیني پوهې د کچې د لوړوالي لپاره یې د هر پوهنځی په هره څانګه کې درسي چارې پر مخ بیایي، همدارنګه په ځانګړې توګه تحصصي ټولګی هم لري، چې فارغ ورکوونکې یې په تخصصي بڼه دیني زده کړې کوي

د یادولو وړ ده چې همدا مهال د اسلامي علومو او فرهنګ ځانګې اړوند (۵۴) تنه زده کړیالان د لېسانس دوري په زده کړو بوخت دي.

### ۱.۱.۱. لرلید (Vision)

د اسلامي علومو او فرهنګ ځانګه به د هیواد په کچه یوه منل شوې ځانګه وي او فارغیدونکي کادرونه به یې د هیواد په تعلیمی او دعوت او ارشاد برخو کې د نوښتونو په وسیله مثبت تغیر راوستونکي وي.

### ۱.۱.۲. رسالت (Mission)

د هیواد ځوان نسل په اسلامي ثقافت د سمبالښت تر څنګ د وطن دوستۍ روحیه ورکول، او د اسلام اصیل فهم د پاللو او د ترویجولو لپاره هلې ځلې کوي.

### ۱.۱.۳. سټر اتیژیکي موخې (Strategic Goals)

۱ – د اسلامي شریعت په رڼا کې د هیواد ځوان نسل د عقیدې جوړل.

۲ – د اسلامي شریعت په رڼا کې د دیني مقدساتو څخه دفاع کول.

۳- د ژبني، سمتي، نژادي او مذهبي تعصباتو څخه پرته په ازاده او عادلانه تګلارو د قضاوت کولو روحیه ورکول.

۴ – د ژوند په ټولو اړخونو(عقاید، عبادات، معاملات، اخلاقیات، اجتماعیت، اقتصاد، سیاست، او اسلامي تمدن) کې

د اسلام د احکامو د شمولیت په اړه خپل ځوان نسل ته بشپړ پوهاوي ورکول.

### ۱.۱.۴. ارزښتونه (Objectives)

1. د انساني کرامت اواخلاقو حفاظت.
2. ټولنیز مساوات اود عدالت تامین.
3. مؤثره او سالمه اداره.
4. حساب ورکول او شفافیت.
5. د فرصتونو برابرول.
6. د سالمو علمي رقابتونو لپاره زمینه برابرول.
7. په اکاډمیکو قضایاوو کې د اصل نسبت تقویت اوتایید.
8. په اسلامي او ملي روحیه روزل شوو کادرونو وړاندې کول.
9. د دولت د دری ګونو قواو ته مسلکي اشخاص وراندې کول

### ۱.۱.۵. تجهیز اتو برخه

1. په LCD یا پروجکټورونوسمبال صنفونه.
2. ځانګه کې د نت شتون.
3. د داخلي او خارجي سافټ او هارډ کتابونو او لکچر نوټونو په لرل.

## ۲.۱. دویم مبحث: د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې موقعیت او امکاناتو په هکله

### ۱.۲.۱. د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې ودانۍ

د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې درسي خونې او تعمیر چې د لوګر پوهنتون د عمومي دروازې ته په داخلیدو سره ښي لوري ته د ښوونې او روزنې پوهنځي لومړی تعمیر(A بلاک) په لومړني پوړ کې خپلې درسي چارې پر مخ بیایې چې مناسب درسي چاپیریال لري او صنفونه یې په LCD، خطابه میز او مناسبو میز لرونکو چوکیو سمبال دي.




### ۲.۲.۱. د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې د علمي کادر غړو احصائیه

| د اسلامی علومو او فرهنګ څانګې د علمي کادر غړی احصائیه |
|---|

| شمېره | نوم | تخلص | د پلار نوم | علمي رتبه | د تحصيل درجه | تحصيلي څانګې | تقرر نېټه | کاري تجربه | علمي آثار | د علمي مقالو خپرېدل | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | میرویس | ستانکزی | میر مقصود | پوهندوی | ماستر | تفسیر او حدیث | 1376/4/1 | ۲۸ | ۵ | ۱۵ | |
| ۲ | احمد غیور | یوسفزی | احمد شاه | پوهنیار | ماستر | تفسیر او حدیث | ۱/۱۹ ۱۳۹۲/ | ۱۲ | ۱ | ۳ | |
| ۳ | یحیی | حقمل | سیف الملوک | پوهنیار | دوکتور | فقه او قانون | ۱۳۹/۸/۱۵ ۹ | ۵ | ۱ | ۱ | |
| ۴ | ابراهیم | نوري | نورولي | پوهنمل | ماستر | تفسیر او حدیث | ۱۳۹/۸/۱۵ ۹ | ۵ | ۱ | ۵ | |
| ۵ | محمد نذیر | محمدي | محمد یعقوب | پوهنیار | ماستر | تفسیر او حدیث | /۹ /۵ ۱۴۰۱ | ۳ | ۱ | ۲ | |
| ۶ | فضل الربی | فایض | ملا امیر جان | پوهنیار | ماستر | تفسیر او حدیث | /۹ /۵ ۱۴۰۱ | ۳ | ۱ | نلري | |
| ۷ | سید عظیم الله | هاشمي | سید محمدالله | نوماند پوهنیار | لیسانس | تفسیر او حدیث | /۹ /۵ ۱۴۰۱ | ۳ | ۱ | نلري | |
| ۸ | شفیع الرحمن | هاشمي | نور محمد | نوماند پوهنیار | ماستر | تفسیر او حدیث | ۳/۴ ۱۴۰۲/ | ۲ | نلري | نلري | |
| ۹ | فضل الربی | زاهد | علي ګل | پوهنیار | ماستر | تفسیر او حدیث | /۳/ ۲۹ ۱۴۰۲ | ۲ | ۱ | ۱ | |

### ۱.۲.۳. د اسلامی علومو او فرهنګ څانګې جوړښت او تشکیلات

د اسلامي علومو او فرهنګ څانګه اوس مهال شپږ تنه غړي لري چې په لاندې ډول دي.




### ۳.۱. دریم مبحث: د محصلینو احصائیه او د علمي کادري غړو سره نسبت

#### ۱.۳.1. د ۱۴۰۳ تر ۱۴۰۴ کال پورې د جنسیت پربنست د محصلانو احصائیه

| کال | اسلامی علومو او فرهنګ | |
|---|---|---|
| | ناریینه | ښځینه |
| ۱۴۰۲ | ۱۵ | ۰ |
| | ۱۵ | |
| ۱۴۰۳ | ۱۳ | ۰ |
| | ۱۳ | |
| ۱۴۰۴ | ۴۴ | |
| | ۴۴ | |

د ۱۳۹۳ تر ۱۴۰۳ کال پورې د جنسیت پر بنسټ د محصلانو احصائیه

#### ۱.۳.۲. د ۱۴۰۲ کال نه تر ۱۴۰۴ پورې د استاد- محصل نسبت

| اسلامي علومو او فرهنګ ځانګه | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| کال | د محصلینو شمیر | د رسمي استادانو شمیر | د غیر رسمي استادانو شمیر | د ټولو استادانو شمیر | د استاد پر محصل نسبت |

| | ناریینه | ښځینه | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | |
| 1403 | ١٣ | | ٩ | ٠ | ٩ | ١/٢ |
| | ١٣ | ٠ | | | | |
| 1404 | ٣١ | | ٩ | ٠ | ٩ | ١/٣ |
| | ٣١ | ٠ | | | | |

د ۱۴۰۲ کال نه تر۱۴۰۴ پورې د استاد- محصل نسبت


### ۱.۳.۵. د اسلامي علومو او فرهنګ ځانګې کتاب خونه

اسلامی علومو او فرهنګ ځانګه کومه ځانګړې کتاب خونه نه لري خو د اسلامی علومو او فرهنګ برخې داخلي، خارجي او نورو کتابونو دپاره په ځانګه کې یوه الماری ټاکل شوې دی چې نوي داخلي او خارجي کتابونه په کې ځای پر ځای شوي دي چې د ضرورت پر مهال معلوماتو را ټولو دپاره د ځانګې درنو محصلینو په اختیار کې هم ورکول کیږي.

## دویم څپرکی

# د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې کمېټې


## ۲.۱. سټراټیژیک پلان کمېټې تشکیلاتي جوړښت




### ۲.۱.۱. د سټراټیژیک پلان کمېټې د دندو لایحه

1. د څانګې پلان څخه نظارت او څارنه کېږي.
2. په هره ربع او هر کال کې پوهنځۍ کمېټې ته د سټراټیژیک پلان د تطبیق په اړه مستند راپور وړاندې کېږي.
3. د کمېټې غړي په غونډو کې منظم او فعال ګډون کوي او د کمېټې مشر لخوا ورسپارل شوې دندې پر وخت او سم ډول ترسره کېږي.
4. د ښې همغږۍ او اصلاحي کړنو په موخه د هر کال په پای کې پوهنځۍ ته کلنی راپور ترتیب او ورکول کېږي.
5. د پوهنځۍ د سټراټیژیک پلان کمېټې سره د پلان جوړولو او تطبیق پر مهال مرسته او همکاري کېږي.
6. د سټراټیژیک پلان د ښه تطبیق په موخه د څانګې د کیفیت لوړواوي او اعتبار ورکونې کمېټې سره کاري اړیکې ټینګېږي.
7. د سټراټیژیک پلان د نوي کولو او ترتیب په موخه د ټولنې له خبره وګړو او اړوند اداراتو او محصلانو سره غونډې جوړېږي.
8. لږ تر لږه په دوو میاشتو کې یو ځل د کمیټې غونډه دایرېږي.
9. ټولې هغه چارې سرته رسېږي چې د کمېټې اړوند مشر له خوا ورسپارل کېږي.
10. نورې هغه دندې چې د اړوندو ذیصلاح مقاماتو لخوا ورته سپارل کیږي.


## ۲.۲. د کیفیت لوړاوي او اعتبارو ورکوني کمېټې تشکیلاتي جدول




### ۱.۲.۲. د اعتبار ورکوني او کیفیت لوړاوي کمېټې د دندو لایحه

1. د ځانګې کې د کیفیت ښه والي هڅې.
2. د څارنې پر مهال بیا څارنې ته سره مرسته.
3. د لوړو زده کړو وزارت، لوړو زده کړو مؤسسې ، پوهنځۍ او اړوند ځانګې له ستراتیژیک پلانونو، کیفیت لوړاوي او اعتبار ورکوني له مهمو اسنادو سره کامله بلدتیا.
4. د کمېټې دپاره د خودي ارزونې او بیا څارنې په بنسټ مناسب اسناد او شواهد تیارول.
5. د لوړو زده کړو وزارت، لوړو زده کړو مؤسسې، پوهنځۍ او اړوند ځانګې د ستراتیژیک پلانونو د تطبیق او عملي کېدو څخه څارنه.
6. د ځانګې په سطحه د پلانونو د تطبیق په پار ناستو او محفلونو ترتیب.
7. د ځانګې په سطحه د عملیاتي او بهبود پلانونو د خط سیر د تطبیق څخه څارنه.
8. د ځانګې درسي مفرداتو او کریکولم د تطبیق څارنه او د سمستر په پای کې د پوهنځۍ کیفیت لوړاوي او اعتبار ورکوني کمېټې ته د هغه راپول استول.
9. د ځانګې د کړنو او اکادمیکو فعالیتونو څارل او ارزول.
10. د پوهنځۍ کیفیت لوړاوی او اعتبار ورکوني کمېټې د برنامو تطبیق او عملي کول.
11. د کیفیت ښه والي ټولې هغه کړنې تر سره کول چې د اړوند ذیصلاح چاراواکو له خوا سپال کیږي.

### ۲.۳. د کریکولم کمېټې تشکیلاتي جدول




#### ۲.۳.۱. د کریکولم کمېټې د دندو لایحه

1. د پلان سره سم د څانګې تحصیلي نصاب مطالعه کول او د قوت او کمزورتیا نقاط یې معلومول .
2. د تحصیلي نصاب د نوي‌والي چارې په مستند ډول ترسره کول.
3. د تحصیلي نصاب د نوي‌والي او پرمختګ په موخه د اهل خبره وو سره غونډې ترسره کول.
4. د درسي مضامینو او مفرداتو د تعیین او تثبیت په موخه، د کار بازار سنجول، د ټولنې غوښتنې او اړتیاوې معلومول.
5. د کار بازار، د ټولنې د غوښتنو او اړتیاوو د معلومولو لپاره د پوښتنپاڼو ترتیب، تثبیت، تحلیل او په دې اړه راپور جوړول.
6. د غنامندی په موخه، د څانګې موجوده تحصیلي نصاب د نورو پوهنتونونو مربوطه پوهنځیو د څانګو له تحصیلي نصاب سره مقایسه کول.
7. د استادانو درسي کتابونه، لکچرنوټونه، سلایډونه او نور درسي مواد د تحصیلي نصاب له مفرداتو سره مقایسه کول.
8. لږ تر لږه په میاشت کې یو ځل د کمېټې غونډه دایرول.
9. نورې هغه دندې ترسره کول چې د اړوندو ذیصلاح مقاماتو له خوا ورته سپارل کېږي.

# نصاب تحصیلی مضامین پوهنتون شمول دیپارتمنت ثقافت اسلامی از صنف اول الی چهارم

| شماره | مضمون | صنف | سمستر | نوعیت مضمون | تعداد کریدت ها | مسئول تدریس |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | نظام اعتقادی اسلام | اول | اول | پوهنتون شمول | 2 | دیپارتمنت ثقافت اسلامی |
| 2 | حفظ وتجوید | اول | اول | پوهنتون شمول | 1 | دیپارتمنت ثقافت اسلامی |
| 3 | سیرت و تاریخ اسلامی | اول | دوهم | پوهنتون شمول | 2 | دیپارتمنت ثقافت اسلامی |
| 4 | نظام عبادتی اسلام | اول | دوهم | پوهنتون شمول | 2 | دیپارتمنت ثقافت اسلامی |
| 5 | نظام اخلاق اسلام | دوهم | سوم | پوهنتون شمول | 2 | دیپارتمنت ثقافت اسلامی |
| 6 | نظام اجتماعی اسلام | دوهم | سوم | پوهنتون شمول | 2 | دیپارتمنت ثقافت اسلامی |
| 7 | تربیه فکری | دوهم | چهارم | پوهنتون شمول | 2 | دیپارتمنت ثقافت اسلامی |
| 8 | ادیان و مذاهب | دوهم | چهارم | پوهنتون شمول | 1 | دیپارتمنت ثقافت اسلامی |
| 9 | نظام سیاسی اسلام | سوم | پنجم | پوهنتون شمول | 2 | دیپارتمنت ثقافت اسلامی |
| 10 | نظام اداری اسلام | سوم | پنجم | پوهنتون شمول | 2 | دیپارتمنت ثقافت اسلامی |
| 11 | نظام اقتصادی اسلام | سوم | ششم | پوهنتون شمول | 2 | دیپارتمنت ثقافت اسلامی |
| 12 | قرآن و علوم معاصر | چهارم | هفتم | پوهنتون شمول | 2 | دیپارتمنت ثقافت اسلامی |
| 13 | تمدن اسلام | چهارم | هشتم | پوهنتون شمول | 2 | دیپارتمنت ثقافت اسلامی |
| | | | | | مجموعه:۲۴ | |

# نصاب تحصیلی دیپارتمنت علوم و فرهنگ اسلامي

| شماره | صنف اول، سمستر اول | | | شماره | صنف اول، سمستر دوم | | | شماره | صنف دوم، سمستر اول | | | شماره | صنف دوم، سمستر دوم | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مضمون | مضمون کود | کریدیت | | مضمون | مضمون کود | کریدیت | | مضمون | مضمون کود | کریدیت | | مضمون | مضمون کود | کریدیت |
| 1 | مبادی تفسیر۱ | Ed. is.0121 | ۲ | 1 | حفظ و قرائت | Ed. is.0121 | ۲ | 1 | مبادی حدیث | Ed. is.0121 | ۲ | 1 | فقه الاولویات | Ed. is.0121 | ۲ |
| 2 | تعلیم و تربیه اسلامی | Ed. is.0121 | ۲ | 2 | مبادی حدفیث ۱ | Ed. is.0121 | ۲ | 2 | حفظ و قرائت ۲ | Ed. is.0121 | ۲ | 2 | لغت عربی۲ | Ed. is.0121 | ۲ |
| 3 | سیرت النبی 1 | Ed. is.0121 | ۲ | 3 | مبادی تفسیر۲ | Ed. is.0121 | ۲ | 3 | لغت غربی۲ | Ed. is.0121 | ۲ | 3 | تمدن اسلامی | Ed. is.0121 | ۲ |
| 4 | مبادی تجوید | Ed. is.0121 | ۲ | 4 | مبادی لغت عربی ۲ | Ed. is.0121 | ۲ | 4 | تفسیر۱ | Ed. is.0121 | ۲ | 4 | مکاتب فکری معاصر | Ed. is.0121 | ۲ |
| 5 | مبادی عربی ۱ | Ed. is.0121 | ۲ | 5 | فقه عبادات ۲ | Ed. is.0121 | ۲ | 5 | سیرت خلفای راشدین | Ed. is.0121 | ۲ | 5 | تفسیر۲ | Ed. is.0121 | ۲ |
| 6 | فقه عبادات ۱ | Ed. is.0121 | 2 | 6 | سیرت النبی۲ | Ed. is.0121 | 2 | 6 | ادیان و مذاهب | Ed. is.0121 | 2 | 6 | حدیث ۱ | Ed. is.0121 | 2 |
| 7 | کمپیوتر۱ | Ed. is.0121 | ۲ | 7 | کمپیوتر۲ | Ed. is.0121 | ۲ | 7 | فقه احوال شخصی ۱ | Ed. is.0121 | ۲ | 7 | فقه احوال شخصی۲ | Ed. is.0121 | ۲ |
| 8 | انگلیسی۱ | Ed. is.0121 | ۲ | 8 | انکلیسی ۲ | Ed. is.0121 | ۲ | 8 | محیط زیست | Ed. is.0121 | ۲ | 8 | حاضر العالم الاسلامی | Ed. is.0121 | ۲ |
| 9 | روانشناسی عمومی | Ed. is.0121 | ۲ | 9 | روانشناسی انکشاف | Ed. is.0121 | ۲ | | تاریخ معاصر | Ed. is.0121 | ۲ | 9 | اساسات تعلیم وتربیه | Ed. is.0121 | ۲ |
| مجموعه کریدیت | | | ۱۸ | مجموعه کریدیت | | | ۱۸ | مجموعه کریدیت | | | ۱۸ | مجموعه کریدیت | | | ۱۸ |

| شماره | صنف سوم، سمستر اول | | | شماره | صنف سوم، سمستر دوم | | | شماره | صنف چهارم، سمستر اول | | | شماره | صنف چهارم، سمستر دوم | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مضمون | مضمون کود | کریدیت | | مضمون | مضمون کود | کریدیت | | مضمون | مضمون کود | کریدیت | | مضمون | مضمون کود | کریدیت |
| 1 | نظام مالی اسلام | Ed.is.0121 | ۲ | 1 | تفسیر۴ | Ed.is.0121 | ۲ | 1 | حدث ۴ | Ed.is.0121 | ۲ | 1 | قواعد فقهي۲ | Ed.is.0121 | ۲ |
| 2 | حدیث ۲ | Ed.is.0121 | ۲ | 2 | حدیث۳ | Ed.is.0121 | ۲ | 2 | عقاید۳ | Ed.is.0121 | ۲ | 2 | فقه عقوبات۲ | Ed.is.0121 | ۲ |
| 3 | تفسیر۳ | Ed.is.0121 | ۲ | 3 | فقه معاملات۲ | Ed.is.0121 | ۲ | 3 | اصول الدعوه | Ed.is.0121 | ۲ | 3 | عقاید۴ | Ed.is.0121 | ۲ |
| 4 | فقه معلات ۱ | Ed.is.0121 | ۲ | 4 | عقاید۲ | Ed.is.0121 | ۲ | 4 | د اسلامی علوموو تدریس میتود | Ed.is.0121 | ۲ | 4 | فقه سیاسی | Ed.is.0121 | ۲ |
| 5 | عقاید۱ | Ed.is.0121 | ۲ | 5 | تاریخ التشریع الاسلامی۲ | Ed.is.0121 | ۲ | 5 | اصول فقه۳ | Ed.is.0121 | ۲ | 5 | اداب اختلاف | Ed.is.0121 | ۲ |
| 6 | تاریخ التشریع الاسلامی | Ed.is.0121 | 2 | 6 | میراث۲ | Ed.is.0121 | 2 | 6 | د تدیس زده کړه | Ed.is.0121 | 2 | 6 | نظام قضایی اسلام | Ed.is.0121 | 2 |
| 7 | اصول فقه۱ | Ed.is.0121 | ۲ | 7 | اصول فقه ۲ | Ed.is.0121 | ۲ | 7 | فقه عقوبات۱ | Ed.is.0121 | ۲ | 7 | اداره تعلیمی | Ed.is.0121 | ۲ |
| 8 | میراث۱ | Ed.is.0121 | ۲ | 8 | فقه النوازل | Ed.is.0121 | ۲ | 8 | قواعد فقهي | Ed.is.0121 | ۲ | 8 | مونوگراف | Ed.is.0121 | ۴ |
| 9 | میتود عمومی تدریس | Ed.is.0121 | ۲ | ۹ | تحقیق | Ed.is.0121 | ۲ | ۹ | ارزیابی تربیتی | ۲ | ۲ | ۹ | | | |
| | مجموعه کریدیت | | ۱۸ | | مجموعه | | ۱۸ | | مجموعه | | ۱۸ | | مجموعه | | ۱۸ |

1. نصاب تحصیلی دیپارتمنت علوم و فرهنگ اسلامی که مجموعا ( ) کریدیت میباشد صحت است.

## څلورم څپرکی

### د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې د علمي کادري غړو پېژندنه

#### ۴.۱. پوهندوی مولوي میرویس ستانکزی

پوهندوی مولوي میرویس ستانکزی د میر مقصود زوی چې په ۱۳۵۳ هـ ش کال کې په لوګر کې په یوې متدینې کورنۍ کې زیږیدلی دی. زدکړې یې د پاکستان په مختلفو مدارسو کې ترسره کړي. د ماستری تر کچې هم زده کړې لري. او ترځنګ د عالمې فاضل دی.

اسلامي ثقافت له استادی څخه پرته یې په مختلفو علمي او اداري برخو کې دندې ترسره کړې دي. لکه د کابل د طبي پوهنتون اسلامي ثقافت څانګې آمر، د یاد پوهنتون اداري مرستیال، او هم د ننګرهار پوهنتون د ستوماتولوژي پوهنځي د رئیس او هم یې د سید جمال الدین افغان پوهنتون د علمي مرستیال په توګه دنده اجراء کړې ده. چې اوس مهال د لوګر پوهنتون د اسلامي ثقافت څانګې استاد او یاد پوهنتون علمي او د محصلانو چارو مرستیال دنده پر مخ وړي.

#### ۴.۲. پوهنیار احمد غیور یوسفزی

پوهنیار احمد غیور یوسفزی د احمد شاه زوی د الحاج عبدالقیوم لمسی دی. چې په ۱۳۶۹ کال کې د لوګر ولایت څرخ ولسوالی په یوې متدینې کورنۍ کې زیږدلی، لومړنۍ زدکړې یې په پاکستان کې ترسره کړې، په ۱۳۸۶ کال کې د ننګرهار پوهنتون شرعیاتو پوهنځۍ د اسلامی تعلیماتو څانګې ته بریالی او په ۱۳۹۱ کال له نوموړي څانګې څخه په کادري نمرو فارغ شو، له فراغت وروسته د آزاد رقابت له لارې د ۱۳۹۲/۱/۱۹ نیټه د پکتیکا پوهنتون ښوونې او روزنې پوهنځۍ د اسلامی ثقافت څانګې ته د علمي کادر په توګه وګمارل شو.احمد غیور یوسفزی په ۱۳۹۵ کال کې دننګرهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځۍ د تفسیر او حدیث ماسترۍ برنامې ته د آزاد رقابت له لارې کامیاب شو چې په ۱۳۹۷ کال کې یې له یاد بنسټ څخه د ماسترۍ سند ترلاسه کړ، نوموړی د لوړو زدکړو وزارت د (۴۹۴۷) ګڼه او ۱۳۹۹/۹/۹ نیټې حکم او د تقرر او ترفیعاتو محترم ریاست (۷۴۸)ګڼه او ۱۳۹۹/۹/۱۰ نیټې مکتوب په اساس د لوګر لوړو زدکړو مؤسسه کې د ښونې او روزنې پوهنځۍ د اسلامي ثقافت څانګې ته تبدیلي وکړه او اوس مهال د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځې د اسلامي علومو او فرهنګ څانګې د آمر په صفت دنده ترسره کوي

### ۴.۳. پوهنمل ابراهيم نوري

پوهنمل ابراهیم نوري د نورولي زوی چې په ۱۳۶۵ هـ ش کال کې د هجرت په دیار، پاکستان کې په یوې متدینې کورنۍ کې زیږیدلی دی.لومړنۍ زدکړې یې په پیښور کې ترسره کړی، خپل هیواد ته یې راتګ سره سم د اختصاصي کانکور له لارې په ۱۳۹۰ هـ ش د ننګرهار پوهنتون شرعیاتو پوهنځي اسلامي تعلیماتو څانګې ته بریالی او په ۱۳۹۳ هـ ش کال کې له نوموړي پوهنځي څخه په کادري نمرو فارغ شو. له فراغت څخه وروسته د ازاد رقابت له لارې په ۱۳۹۳ هـ ش کال کې د ننګرهار پوهنتون شرعیاتو پوهنځي تفسیر او حدیث څانګې ماسترۍ ته بریالی شو. له دوه کلن تعلیمي مزل پای ته رسولو څخه وروسته په ۱۳۹۴ هـ ش کال کې له ماسترۍ مرحلې څخه په کادري نمرو فارغ شو.

دا چې د پوهنتون استادۍ سره یې زیات شوق او رغبت درلود نو د فراغت سره سم یې په شخصي پوهنتونو کې د استادۍ مقدسه دنده تر سره کوله؛ تر دې چې د لوګر پوهنتون ښوونې او رزونې پوهنځي اسلامي ثقافت څانګې ته د ازاد رقابت له لارې په ۱۳۹۹ هـ ش کال بریالی شو. چې بیا په ۱۴۰۲ هـ ش کال کې د ښوونې او روزنې پوهنځي د رئیس په توګه وګمارل شو، چې تر دې دمه د پوهنځي د ریاست چارې پر مخ وړي.

### ۴.۴. پوهنیار محمد نذیر محمدي

پوهنیار محمد نذیر محمدي د محمد یعقوب زوی، د شریندل لمسی، د لوګر ولایت د برک ولسوالۍ د حیات په کلي کې په ۱۳۶۶ هجري لمریز کال کې زېږېدلی.

لومړنۍ زده کړې یې په خپله سیمه او کوټه) بلوچستان (کې کړې دي .هېواد ته له راستنېدو سره سم د کابل د امام ابوحنیفه رحمه الله عالي دارالعلوم ته شامل شو او په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې له ثانوي زده کړو څخه په اعلی درجه فارغ شو .په همدې کال کې یې په کانکور کې ګډون وکړ او د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د اسلامي تعلیماتو په څانګه کې بریالی شو، چې په ۱۳۸۹ هجري لمریز کال کې له یاد پوهنځي څخه په اعلی درج فارغ‌التحصیل شو.

د علم حدیث دوره یې د کابل ولایت د چهار آسیاب ولسوالۍ په» بحرالعلوم جامعه «کې بشپړه کړه .همدارنګه یې د شیخ آغا محمد په» محمدیه جامعه «کې له شیخ محمد زاهد عزیز خیل څخه د فقه او افتاء تخصص وکړ.

په ۱۳۹۸ هجري لمریز کال کې یې د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د تفسیر او حدیث له څانګې څخه ماستري ترلاسه کړه .د دې ترڅنګ یې په بېلابېلو مدرسو کې د تدریس او امامت دندې ترسره کړې.

په ۹/۹/۱۴۰۱ نېټه د لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د ښوونې او روزنې پوهنځي د اسلامي ثقافت په څانګه کې د آزاد رقابت له لارې د استاد په توګه مقرر شو .وروسته یې د شرعیاتو پوهنځي او اسلامي ثقافت څانګې چارې هم سمبالولې . اوس مهال نوموړی د یادې څانګې د تدریس په چارو بوخت دی.

### ۴.۵. پوهنیار فضل الربي فایض

پوهنیار فضل الربي فایض د ملا امیر جان زوی د لوګر ولایت مرکز پادخواب شاني اوسیدونکی، په ۱۴۰۸ هـ ق – ۱۳۶۶ هـ .ل کال کې د یاد کلي په یوه علمي او دینداره کورنۍ کې زیږیدلی، د خپل پلار د روزنې او ښوونې تر څنګ یې خپلې لومړنۍ زده کړې د خپل کلي په احمدیه ښونځي کې تر سره کړي، په ۱۴۰۱۸ هـ.ق کال کې د پل علم ښار مرکز عمریه دیني مدرسه کې شامل شو په دې سره یې خپلې زده کړې د دیني علومو لپاره ځانګړې کړې، د هیواد دننه یې په مختلفو دیني مدارسو کې زده کړې وکړې، په ۱۳۸۴ هـ ش کال کې د کابل پوهنتون شرعیاتو پوهنځي ته شامل او په ۱۳۸۷ هـ .ش کال کې په کادري درجه فارغ شو، له فراغت وروسته د یاد ولایت په مختلفو مدارسو کې د تدریس دنده پر مخ وړله، په ۱۳۹۶ کال کې حوت میاشت کې د ننګرهار پوهنتون شرعیاتو پوهنځی تفسیر او حدیث څانګه کې د ماسترۍ په موخه شامل او په ۱۳۹۹ هـ ش کې له یادې څانګې په کادري درجه فارغ شو، په ۱۴۴۱ هـ.ق کال کې د تخصص في الفقه والافتاء په موخه د شیخ صاحب محمد زاهد عزیز خیل مدرسه الجامعة الاسلامیة المحمدیة – کابل کې شامل او په ۱۴۴۳ هـ. ق کال کې په ممتاز درجه فارغ شو، د امریکایي اشغال پر مهال یې د فکري مبارزې تر څنګ د اشغالګرو په وړاندې نظامي ډګر هم نه دی هېر کړی او د مولوی صاحب روح الله عبد السلام او شهید ملا نقیب الله ذاکر په مشرۍ یې په یاد ولایت کې نظامي مبارزه هم کړې، په ۱۴۰۱ هـ ش کال کې لوګر پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځي، د اسلامي علومو او فرهنګ څانګه کې د استاد په صفت وګمارل شو، چې اوس مهال هم دغه مقدسه دنده پرمخ وړي

### ۴.۶. پوهنیار دکتور یحیی حقمل

دوکتور یحیی حقمل د الحاج سیف الملوک زوی د کونړ ولایت چې په ۱۳۷۲ کال د هجرت د سختو شپو او ورځو په دیار کې زیږیدلی.

لومړنۍ زده کړې یې د هجرت په دیار کی تر سره کړې، چې افغانستان ته له راتګ سره سم یې په ننګرهار کې د نجم المدارس(هډې اخونزاده) تاریخي دارالعلوم کې په درس پیل وکړ، چې له یاد دارالعلوم څخه یې د څوارلسم ټولګې د بریا سند پر ۲۰۱۲ میلادي کال تر لاسه کړ.

له یاد دارالعلوم څخه له فراغت وروسته یې ننګرهار پوهنتون کې په کانکور ازموینه کې برخه واخیسته او شرعیاتو پوهنځي فقه او قانون څانګې ته بریالي شو، چې رسما یې پر ۱۳۹۱هـ ش کال په درسونو پیل او پر ۱۳۹۳ هـ ش کال یې په کادري نومرو سره د لیسانس ویاړ تر لاسه کړ.

د لیسانس له فراغت سره سم یې ننګرهار پوهنتون د ماسترۍ برنامه پیل کړې، چې د لا لوړو زده کړو په موخه یې د ماسترۍ برنامې په رقابتي ازموینه کې ګډون وکړ، د الله په توفیق سره بریالي اعلان، او له ۲۰۱۴ میلادي څخه تر ۲۰۱۶ میلادي کال پورې همدلته په خپلو درسونو کې بوخت پاتې شو، چې پر همدې یاد کال یې د ماسترۍ ستر ویاړ په کادري نومرو سره دالله په توفیق او مرسته لاس ته راوړ.

له زده کړې سره د پوره مینې او رغبت له امله یې د ګاونډي هیواد پاکستان د سکالرشیپونو په لړۍ کې د دوکتورا برخې ته نوم لیکنه وکړه، چې بالاخره په یاده رقابتي ازموینه کې بریالي اعلان او د دکتورا د درسونو د پیل لپاره د پېښور پوهنتون په انتخاب پیښور ته ولاړ، چې بالآخره یې په ۲۰۲۵ میلادي کال کې دوکتورا مرحله په ممتاز درجې سره بشپړه کړه.

او تر څنګ یې د دیني او ملي روحیې په بنیاد او په رسمي چوکاټ کې د خدمت په موخه د لوګر پوهنتون لخوا د اسلامي ثقافت په برخه کې اعلان شوي بست ته نوم لیکنه وکړه، د څو پړاویزې ازموینې څخه وروسته بریالي او پر کال ۱۳۹۹ هـ ش د لوګر پوهنتون د تعلیم او تربیې پوهنځي کې د اسلامي ثقافت د علمي کادر په توګه مقرر شو، چې اوسمهال همدلته په تدریسي چارو بوخت دی.

### ۴.۷. پوهنیار فضل ربي زاهد

محترم فضل ربي زاهد د علي ګل زوی د لوګر ولایت مرکز پل علم کې په ۱۳۷۳ هـ ش کال کې زېږېدلی دی، لومړنی دیني زده کړې یې په خپل کلي کې او د قرآن کریم حفظ،تجوید او پاتې دیني درسونه یې د خوست او لوګر اړوند مختلفو مدارسو کې کې تر سره کړې دي. لیسانس دوره یې د ننګر هار پوهنتنون شرعیاتو پوهنځی د اسلامي تعلیماتو څانګه کې په ۱۳۹۷ هـ ش کال کې پای ته رسولې ده او ماستري دوره یې هم د یاد پوهنتونه د تفسیر او حدیث په څانګه کې په ۱۴۰۱/۷/۷ نېټه له خپل تېزس په دفاع کولو سره بشپړه کړه.نوموړی په ۱۴۰۲/۳/۲۲ نېټه د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی د اسلامي علومو او فرهنګ څانګه کې د علمي کادر غړي په توګه مقرر شوی دی.

### ۴.۸. نوماند پوهنیار شفیع الرحمن هاشمي

نوماند پوهنیار مولوی شفیع الرحمن هاشمی د نور محمد زوی په ۱۳۵۲ هـ ش کال کې د لوګر ولایت مرکز پادخواب شانه سیمه کې په یوې متدینې کورنۍ کې زیږیدلی دی. لومړني زد کړې یې په پاکستان کې په مختلفو مدارسو کې کړی دی، او د جامعه حقانیه اکوړه خټک خټه یې د عالمې دورې سند ترلاسه کړی دی، چې اوسمهال یې سند د ماستری معادل ارزیابی شوی دی.

نوموړی د لوګر ولایت په جامعه عمریه دارالعلوم کې د مدرس په حیث پاتې شوی دی، او په کال ۱۴۰۲ کې د لوګر پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی د اسلامې علومو او فرهنګ څانګې کې د علمي کادر غړي په توګه مقرر شوی دی. او اوسمهال د یادې څانګې د استاد په صفت دنده ترسره کوي.

### ۴.۹. نوماند پوهنیار سید عظیم الله هاشمي

اینجانب حافظ سید عظیم الله هاشمی، فرزند سید محمدالله ولدیت سید شادو الله، در سال ۱۳۷۲ هجری شمسی در قریهٔ سید حبیب الله، کلنګار مربوط مرکز ولایت لوګر، دیده به جهان ګشودم.

تحصیلات ابتدایی ام را نزد ملا امام مسجد قریه آغاز کرده، که در سال ۱۳۸۹ به توفیق پروردګار متعال، حافظ کامل قرآن کریم شدم، و با سپری نمودن مراحل لازم، دستار فضیلت را به سر نهادم. پس از آن، در سال ۱۳۹۱ با موفقیت در نتیجه امتحان کانکور، وارد پوهنتون ننګرهار ګردیده و در پوهنځی شرعیات، دیپارتمنت تعلیمات اسلامی، شامل شدم که در سال ۱۳۹۵ با فصیدی عمومی ٪۸۸ از این نهاد علمی فارغ التحصیل ګردیدم.

در کنار تحصیلات پوهنتون، توجه خاص به علوم دینی نیز داشتم. که متصل به دورس دینی خویش ادامه دادم و شش سال را در مدارس دینی در ولایات مختلف میهن عزیز خود سپری نمودم و در جریان دروس خویش، در سال ۱۳۹۷ دورهٔ

تجوید قرآن کریم را با کسب تقدیر ممتاز به پایان رسانده و بر مبانی تلفظ و قواعد قرائت قرآن کریم تسلط کامل حاصل نمودم.

متعاقباً، در سال ۱۳۹۸ دورهٔ صغریٰ احادیث را در جامعهٔ اصحاب کرام، واقع در تانگ لوگر (ولایت کابل)، تکمیل نمودم. در سال ۱۳۹۹ نیز دورهٔ کبریٰ احادیث را در جامعهٔ تعلیم القرآن حضرت علی (کرم الله وجهه)، واقع ولایت کابل، ولسوالی ده سبز، قریه دانشمند نزد استاد مشفق و مهربان، جامع المعقول و المنقول فضیلة الشیخ الحاج سید یحیی آغا صاحب حفظه الله با موفقیت به پایان رسانیدم.

در سال ۱۴۰۱ در رقابت آزاد بست های کادری در بخش ثقافت اسلامی پوهنتون لوگر شرکت نموده و به فضل خداوند متعال، به حیث کادر علمی این نهاد معتبر پذیرفته شدم. هم اکنون در همین سمت، در خدمت علم، دین و جامعه قرار دارم.

به منظور ارتقاء ظرفیت علمی و تحقیقی خویش در سال ۱۴۰۲ شامل برنامهٔ ماستری در رشتهٔ تفسیر، پوهنتون تعلیم و تربیه کابل گردیدم و در سال ۱۴۰۴ با فصیدی عمومی ۹۳.۶۹ ٪ با کسب درجه ممتاز از این برنامه علمی فراغت حاصل نمودم.

با باور عمیق به ارزش های اسلامی، علمی و انسانی، همواره کوشیده ام تا در عرصهٔ تعلیم، تبلیغ و تربیت، سهم شایسته ای را ادا نمایم و در راه خدمت به دین مقدس اسلام و نسل نوپای کشور، صادقانه و با تعهد گام بردارم.